## برخه: (B) د ښه رهبر ځانګړتیاوي او صفتونه

**څلورم لوست یا درس:** په ښو رهبرانو کي د ریښتینولۍ او صداقت ارزښت

**د زده کونکو د زده کړي موخي او هدفونه:** زده کونکي به د دي لوست په پایله کي د لاندې موخو یا هدفونو سره اشنایي پیدا کړي ددي لوست تشریحات به د لاندې موخو یا هدفونو د لاسته راوړني پایله یا نتیجه وګرځي:

1. د ریښتیا ویلو او صداقت معني اړ مطلب څه دی؟
2. ریښتینولي او صداقت څه فواید یا ګټي لري؟
3. د انساني کرکتر د ځانګړتیاوو له مخي صداقت او ریښتینولي څه اهمیت یا ارزښت لري؟

**د لوست ورکولو لپاره وړاندیز وخت:** ۱ ساعت

**وړاندیز شوي منابع یا سرچیني:** لاندې منابع یا سرچیني کیدلي شي چي په دي لوست کي ګټوري واقع شي

Blanton, Brad PhD. Radical Honesty: *How to Transform Your Life by Telling the Truth.* New York, New York: Dell Publishing, 1996.

**د سامانونو، وسایلو یا وسیلو، لوازمو او اسانتیاوو فهرست یا لړلیک**

د لیکلو په خاطر سپینه یا تشه ورقه یا صفحه

د پاورپواینټ د ارایي لپاره پراجکتور یا غټ ښودونکی

د پاورپواینټ سلایدونه یا صفحي

شفاف یا روښانه سلایدونه یا صفحي

د زده کونکو کاري ورقي

اعلانونه، اخبار او مجلي.

مارکرونه

کاغذ

پنسلونه

**اصطلاح ګاني** لاندې اصطلاح ګاني په دي لوست یا درس کي وړاندیز(ارایه) کیږي.

- Honesty صداقت یا ریښتینولي

**په زړه پورې تګلاره** :له یوې په زړه پورې تګلارې څخه ګټه پورته تکړئ ترڅو چې زده کونکي د لوست د زده کړې لپاره اماده کړي. ښوونکی اکثره د خپلو ځانګړو ټولګیو لپاره د زده کونکو د شرایطو سره سم تګلارې تهیه او برابروي یا ترتیبوي. لاندې تګلاره کیدلی شي چي د یوې ممکنه تګلارې په ډول سره ورځخه یادونه وکړل شي:د بیلګې په توګه سوالونه یا پوښتني مطرح کړئ ترڅو چې زده کونکي په کار واچول شي.زده کونکو ته یاده کړئ چې د نن ورځې پيصري او موضوعات کوم چي په لوست کې تري بحث وشو محرم دي او باید چي له ټولګې څخه بهر نه کړل شي. زده کونکي وهڅوئ ترڅو چي سوالونه مطرح کړي او د خپلو تبصیرو په برخه کې ريښتيني او مخلص وسي. د هر یو زده کونکی لپاره مختلف اعلانونه توزیع کړئ او له هغوي څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي دا اعلانونه تحلیل کړي.

**د استاد لپاره لاسي لیکونکي:** د مهربانی له مخي خپلي یو څو لحظي د اخبار او مجلي د تجارتي اعلانونو لپاره وقف کړئ. ستاسي له نظره دا تجارتي اعلانونه څه پیغام لري او ستاسي په نظر کوموشیانو ته نادرست اشاره او دلالت کوي؟ دا اعلانونه د تولیداتو په برخه کې څه غیر واقعي شیان په بر کي لري؟ د دي اعلاناتو کومه جمله غواړو چي تاسې ته فریب درکړي؟ ایا اعلانات په خپل زات کي د نیمایي واقعیت لرونکي دي؟خپل ځوابونه د نورو زده کونکو سره شریک کړئ.

له څو زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو خپل تبصیري د اعلانونو په برخه کي له نورو زده کونکو سره شریکي کړي. د دي لپاره چي دي فعالیت صورت نیولي وي لس دقیقي وخت د زده کونکو لپاره ورکړئ.

## د محتویاتو یا منځ پانګو لنډیز او درسي ستراتیژي ګاني

**لومړی موخه یا هدف :** د صداقت یا ریښتینولی مطلب او معني څه ده؟

**وراندیز شوي ستونزه یا مشکل**:د صداقت یا ریښتینولی مطلب او معنی څه ده؟

I. فعالیت(کړنه) – د صداقت معنی څه ده؟

دا فعالیت یا کړنه تقریباً پنځه دقیقي وخت په بر کي نیسي.

**د استاد لپاره لاسي لیکونکی:** د هغه وخت په برخه کي تشریحات ورکړئ چي تاسي په هغه مهال ریښتیني نه واست او څه واقع شوي وي؟ څه تجربه مو حاصله کړي ده؟
د ټولګي زده کونکي په دري ګروپونو باندي تقسیم کړی ترڅو چي په مکتب، دفتر او کور کي د ریښتینولی لاري چاري تشخیص یا مشخصي کړي. زده کونکو ته لس دقیقي وخت ورکړئ.
**د استاد لپاره لاسي لیکونکی:** د یوه کاغذ پرمخ باندي دري ستونونه ایجاد کړئ او نوموړي ستونونه د مکتب، دفتر او کور په نامه سره مسمي کړئ. په هریوه ستون کي د صداقت یا ریښتیولی لاري چاري لست یا نوملړ کړئ. زده کونکي کولي شي چي په ګروپي شکل سره په دي برخه کي کار وکړي. دا تمرین څو محدودي دقیقي په خپل بر کي نیسي.

**دوهمه موخه یا هدف:** صداقت یا ریښتینولي څه ګټې لري؟

**وړادیز شوې ستونزه یا مشکل:** د صادق یا ریښتینولۍ ګټې څه دي؟

II. فعالیت(کړنه) – د صداقت یا ریښتینوالۍ ګټې

**د استاد لپاره لاسي لیکونکی:** تاسې کوم وخت دي ته میلان لرلي دي چي دروغ ووایاست ولي برخلاف ددي خپل میلان مو ریښتیا ویلي دي؟ څه واقع شوي دي؟ آیا د خپل تصمیم په نسبت مو تاسف کړي دي؟ آیا د خپل صداقت څخه مو کومه ګټه پورته کړي دي؟
له دي څخه وروسته چي دوه جوړي زده کونکي په خپل منځ کي په دي برخه کي مصاحبه کړي وي، نو د هغوي له خو تنو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي يي له نورو سره شریک کړي.
**استاد لپاره لاسي لیکونکی:** د صداقت یا ریښتینولۍ په برخه کي بحث وکړئ.

**دریمه موخه یا هدف:** د انساني کرکتر له مخي صداقت یا ریښتینولۍ څه اهمیت یا ارزښت لري؟

واندیز شوي ستونزه یا مشکل: د انساني کرکتر له مخي صداقت او ریښتینولي څه اهمیت لري؟

III. فعالیت(کړنه) – ټولګیوال بحث

ټولګیوال بحث په دي برخه کي رهبري کړئ، د لاندې سوالونو په روښانتیا کي دا بحث د پنځلس دقیقو لپاره دوام پیدا کوي:

**استاد لپاره لاسي لیکونکی:** تاسي کوم خلک پیژنۍ چي ریښتوني وي؟ د هغه چا په برخه کي چي ریښتیني وي او د تل لپاره حقیقت بیانوي ستاسي نظر څه دی؟
**استاد لپاره لاسي لیکونکی:** آیا مور او پلار او همدارنګه دوستانو ته لږ څه دروغ ویل درست نه دي، په داسي حال کي چي حقیقت ویل هغوي ته صدمه ورسوي؟

**استاد لپاره لاسي لیکونکی:**آیا په صداقت یا ریښتیا ویلو کي کومي ننګوني شتون لري؟ په دروغ ویلو کي کومي ننګوني شتون لري؟ تاسي له خپل صداقت یا ریښتینولۍ څخه په څه ډول سره استفاده کولي شي؟

**استاد لپاره لاسي لیکونکی:** صداقت یا ریښتیا ویل ستاسي له کرکتر سره څه اړیکه لري؟

**بیاکتنه/ لنډیز:** له زده کونکو څخه پوښتنه وکړئ چي آیا هغوي د خپل ځان په برخ کي صادق یا ریښتوني فکر کوي یا که نه. له هغوي څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي په دي برخه کي څه شي ولیکي او د خپل صادق یا ریښتینوالي دلیل هم بیان کړي چي ولي هغوي صادق دي؟ باید ټول هغه ټکي چي په تیر شوي بحث کي ځاي کړل شوي دي د هغوي له دلایلو کي شتون ولري. زده کونکو ته ووایاست چي دا ټول بحثونه محرم او پټ دي. ددي لپاره چي دا فعالیت یا کړنه بشپړه شوي وي د زده کونکو لپاره پنځه دقیقي وخت ورکړئ.

تطبیق یا عملي کول : له زده کونکو څخه غوښتنه وکړي ترڅو د صداقت یا ریښتینولۍ په برخه کي یو درست پلان کړي او هغه نویو زده کونکو ته وړاندي کړي. زده کونکو ته یادونه وکړي ترڅو چي لوست یا درس په زړه پوري ډول سره تقدیم کړي. حتي دوي کولي شي ترڅو د تمثیلي پارچي په شکل درس یا لوست وړاندي کړي.

**ارزیابی** ارزیابي باید د زده کونکو د لوست یا درس په هغه موخو یا هدفونو باندې متمرکزه وي کومي چي زده کونکو په لاس راوړي دي.په دي برخه کي کولی شي چي د مختلفو تخنیکونو څخه استفاده وکړي،بیلګیز امتحان یا ازموینه په لیکلي بڼه له دي سند سره پیوسته وړاندي شوي ده.

نمونه يي امتحان
له صداقت يا رينښتينوالۍ څخه کار اخستل

نوم: -------------------

يوه مقاله وليکئ کومه چي د پنځو سو لغتونو يا کلمو درلودونکي وي.

له هغو کسانو سره چي تاسي ته يي دروغ ويلي دي، څنګه کولي شي چي د بيا ځل لپاره خپل اړيکي جوړي کړي؟